
مونږ د چُټۍ په ورځ پټ پټونې کولو-
نيکۀ بابا، ما او شهير د بابا پيشو مانو
سره لوبې کولې- اول وار زما وۀ- ټول پټ
شول- ما بابا او شهير زر و موندل خو مانو
نۀ ښکاريده-



زه د مور کوټې ته لاړم- مور تپوس وکړ،
شِفا ته څۀ لټوې؟ ما ووې، چې مانو ګورم
چې "شُوف" پرې ووایم- مور ووې، مانو
ډېره چالاکه ده، هغه بهر هم وځي-



ما د نیاابۍ نه‌تپوس وکړۀ، تاسو مانو لیدلې ده؟ د هغې خوا کښې څۀ څیز وخوزېدۀ- ما ووې، ”شُوف“ او څادر مې راښکۀ خو مانو هلته نۀ وه- نیا بهر طرف ته اشاره وکړه-



شهیر په چغه ووې، ”شُوف“- مونږ منډې کړې، شهیر شُوف، شُوف کول- مونږ ترې تپوس وکړۀ، مانو کوم ده؟ شهیر د ورانې نه ووې، نۀ شته-



مانو مو هر ځاے و لټوله خو په لاس
رانغله- بابا ووې، هغه به اوده شوې وي-
شهير ورپسې سندره وئيله- مونږ بيا لټول
شروع کړل ، خو هغه چرته هم نۀ وه-



ټولو ووې، مانو خو وکتله- سمدستي اواز
وشۀ، میاؤ، میاؤ--- اله ! دا خو د ونې نه
اواز راځي- مونږ ټولو وبائیله او مانو و
کتله-



شهیر ووې، ځه نن خو مانو وګټله خو چې
بیا کله لوبه کوو نو زۀ به ګټم- داجي ووې،
د مانو نه ګټه کول ګران دي-



**بنيادي سوال**

د کورنۍ خلک اوزګار وخت څنګه په لوبو ټوقو تېروي؟

## د لوستلو صلاحيتونه او حکمت عملۍ

غږ پوهنه :  /ا/، /اي/، /او/

د ټکيو پنګه: لټول، موندل، ښکارېده، شوف، بائيله، ګټله، ګران، وراني، داجي، لاس، چالاکه،تپوس

ژب داني:  مذکر او مؤنث

## لېولډ ريډر

په يو کلاس کښې د لوستلو د صلاحيت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مينځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحيتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ريډر په نوم مختلفې قيصې ليکلې شوي دي- د دې لېولډ ريډر متن په رو رو سپوا کړے شوے دے- د لېولډ ريډرز بنيادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ ريډر 8 سېټونه تيار کړي شوي دي- د هر لېولډ ريډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر يو لېولډ ريډر په شاتني مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپايې په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بيا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ضلعي يا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

## استاذانو د پاره لارښوونې

د وړومبیو درېو مخونو نه پس لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. په دې قیصې کښې د کور کوم کوم خلک پټ پټونې کوي؟
2. تاسو سره په کور کښې څوک پټ پټونې کوي؟ تاسو څۀ محسوسوئ؟
3. شفا ته مور څۀ ووئېل؟

د نیمې قیصې نه پس لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. په کومو ټکیو کښې چې د "او" اواز راځي هغه په ګوته کړئ؟ مثلاً مانو-
2. ستاسو په خیال هغوي به مانو پېدا کړي؟ څنګه؟
3. د شهیر په چغه د "شُوف" وئیلو مطلب څۀ وو؟

د قیصې په اخره کښې لاندیني تفهیمي سوالونه تپوس کړئ-

1. په دې قیصې کښې څومره مؤنث او مذکر کردارونه دي؟
2. تاسو به دې کورنۍ ته د مانو لټولو د پاره څۀ مشوره ورکوله؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بېن الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده- دا مواد یو ایس ایډ- پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړې دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس ایډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-